مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۹/۳۰

# زه ویره لرم

زه ویره لرم
لمر ډوبېدلو څخه
له تور ماښامه
خاموشي شپې څخه
بې هرکلي سهار نه
او د تنهایي له وخته
ځکه وژونکې وي
زه ویره لرمه
له ژر زړښت څخه
د ښکلا پای څخه
د زوال ورېځو نه
د بدرنګۍ له کرښو
او ستا د مرګ له خبر
ځکه وژونکې وي
زه ویره لرم
له دروند غمجن سازه
نیمګړو مینو څخه
دردمن ناول څخه
له مات شاعره
او د ده وروستي شعر نه
ځکه وژونکې وي
زه ویره لرم
تلونکو شپېو څخه
شاته کتلو نه
تا ته درتللو څخه
د محبت اظهار نه
او بې له اظهاره عشق نه
ځکه وژونکې وي
زه ویره لرم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له نالیدلو خوبو
خپلو سوچونو څخه
ژورو سترګو څخه
له خپلو سویو چیغو
او د دغو چیغو انعکاس څخه
ځکه وژونکی وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ